# د لارې پاکولو ګټې او ثوابونه

حامد افغان

. جنت ته ننوتل _1

څوک چې له لاري نه ضرري شی لرې کړي او پاکه يې کړي هغه به جنت ته ځي ، رسول الله صلي الله عليه سلم وايي : مايو سړی وليدی په جنت کې ګرځيدی ، ځکه هغه په لار کې يوه ونه پرېکړې وه چې هغې مسلمانانو ته يې تکليف ورکاوه . لقد رأيـت رجـلاً يتقـلّب في الجـنّة في شجـرة قطـعهــا من ظــهــر طـــريق كـــانت تـــؤذي المســلــمين ) (رواه مسلم .(

. د ګناهونو بښنه -2

لاره پاکول دګناهونو دبښلو سبب ګرځي رسول الله صلی الله عليه وسلمم وايي : يو سړی په لار روان و په لاره کې يې اغزنه لښته وليدله او هغه ی پلرې کړه نو خدای يې شکر قبول کړ او بښنه يې ورته وکړه . بينمـــا رجـل يمشــي بطـــريــق وجـد غـصـن شــوك على الطـــريــق فأخـــره فشـــكر اللّــه له فغــفر له .(رواه مسلم .)

. دايمان برخه ده -3

لاره پاکول هغه ست رعمل دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم دايمان برخه بللی دی ، په حديث کې راغلي دي : ايمان څه باندي اويا برخې لري غوره بره يې لا اله ال الله ويل دي ، اوټيټه برخه يې له لارې نه دضرر شيان لرې کول دي . الإيمــــان بضـع و سبعــــون شعــبــة ، أفضلــهــا قــول : لا إلـــه إلا اللّـــه وأدناهـــا إمــاطــة الأذى عن الطّـــريــق . (رواه مسلم )

. صدقه ده -4

لاره پاکول صدقه او خيرات ده ، رسول الله صلي الله عليه وسلم وايي : له لارې د ضرر شيان لرې کول صدقه او خيرات ده . و تميــط الأذى عن الطّـــريـق صـــدقـــة . (رواه البخاري ومسلم )

ګومان نه کوم ډيرو خلکو به دا فکر کاوه چې لاره په اسلامي شريعت او درسول الله صلي الله عليه وسلم په لاربښوونو کې دومره اهميت لرې ، ځکه خو موږ په ټوليزه توګه د لارو په اړه د مسؤليت ډير احساس نه کوو . تاسو دا روايتونه وليدل او دا ټول صحيح روايات دي عملي کول يې په هر مسلمان لازمي دي . په لاره کې موټر درول ، په لاره کې دريدل چې تيريدونکو ته تکليف وي ، لارې ته دومره نږدې سامان پلورل چې هغه ځای ترافيک مناسب نه بولي او خلکو ته تکليف وي ، دا ټول دشريعت خلاف او دايما ن له غوښتنو سره ضد کارونه دي . داراز دلارو خوندي ساتل ، له لارو نه خلکو ته ضرر رسوونکي شيان لرې کول دلارو خرابول او داسې نور کارونه له پورته لوړو ثوابونو د محروميت معنا لرې .

ما په يوه بله ليکنه کې دجاپانيانو پر اخلاقو خبرې کړې وي چې يوه يې داهم وه :په جاپان کې ښار پاکوونکی کاريګر صحي انجنير بولي ، او دمياشتي يې له 5000نيولې تر 8000امريکايي ډالرو پوري معاش وي ، او د دې کار د زده کړې له پاره مختلف کورسونه ورکول کيږي او بيا ازمويني ورنه اخيستل کيږي . ښارونه يا لارې پاکول خلک په دومره اهتمام سره ځکه کوې چې همدومره زيات اهميت لرې او پاک ساتل يې ګڼ شمير صحي او اخلاقي ګټې لري موږ که دا کار وکړو له دې ګټو سره به مو داخرت له پاره هم توښه برابره کړې وي